
# د سري ګرګري چرګ
# او ګيدړه



۱۱

Ketabton.com

د سنايي پرمختيايي موسسي له خيرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سرې کرکرې چرګ او ګیدړه

خپرونکې : د سنايي پرمختيايي موسسه
مسول مدير : راز محمد دليلي
ليکونکې : عبدالغفار ګرديزي
کتوونکې : حفيظه ساعي
پښتو ژباړه : قاضي محمد خالد
انځورګر : استاد لطيف احمد غفوري
کمپوز او ديزاين : سيف الله زماني

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مالي مرسته د ۱۳۸۳ د چنګاښ مياشت
دويم طبع : ۱۰۰۰ ټوکه، د Children at Risk په مالي لګښت د ۱۳۸۴ کال د غويي مياشت.
اوسنی طبع :
د پښتو طبع : ۱۵۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۵ کال د سلواغې مياشت
د پښتو طبع : ۱۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۶ کال د کب مياشت.

ددې کتاب ټول حقوق د سنايي په پرمختيايي
موسسې پورې اړه لري.

په کابل کې پته : پنځم سړك، انصاري څلور لارې د محمد علم فيض زاد ليسې خواته
تيلفون : ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
پوست بکس : ۱۸۱
برېښنا ليك : sieal@brain.net.pk
انترنيت پانه : www.sanayee.org
په پاکستان کې پته : اورکزي پلازې شاته، يونيورستي تاون، پېښور پاکستان.
تيلفون : ۰۰۹۲ - ۹۱ - ۵۸۴۲۱۵۵ - ۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس : + ۹۲ + ۹۱ - ۵۸۴۵۱۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱۱

## تصويري کيسه

# د سرې کرکرې چرګ او ګيدړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اهداء :**

# د کتاب لوستونکو

# او مینه والوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریز

د لوی خدای(ج) څخه ډیر شــکر ګذار یو چې د ســنایي پرمختیایي موسسې (SDO) ته یې داتوفیق ورپه برخه کړ چې د ماشومانو لپاره د تصویري کیسـو د کتابــونو په لړۍ کې یولســم کتاب هم چاپ او خپور کړي. ددې کتاب د خپرولو موخه او مقـصد د ماشـومانو سـره مرســته ده. هغه ماشـومان چې د ټولنې زیانمن شـوې ډله خصوصاً زمونږ په ټولنه کې ده جوړوي. د سنایي پرمختیایي موسسـه (SDO) د ذکر شــوي هدف په نظر کې نیولو ســره خپل زیار باســي چې له مختلفو لارو مخصوصاً د دغسې کتابونو په خپرولو سره د خپل ګران وطن د وزګاره ماشـــــومانو او نوي ځوانانو د وزګار وخت د ډکولو لپاره ډیر ګټور دي چې د لوستلو او د ښه ژوندانه رواج شـی. د وطن راتلونکې د رڼا په وړانګو کې د جوړونکو په هیله.

والسلام

راز محمد دلیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# *Prefane*

*We thank Almighty (SWT) for enabling Sanayee Development Organization (SDO) to produce the 11 th series of the pictorial and educational books for children and adolescents.*

*The aim of publishing this book is to promote and upgrade the knowledge of Afghan children through an entertaining and amusing way. SDO, by producing such reading materials, also aims to promote culture of reading books among children and adolescents and encourage them to spend their time efficiently and usefully.*

*In the hope for a bright future of children and adolescents, these future builders of Afghanistan!*

*In Peace,*

*Raz Mohammad Dalili*
*Executive Director - SDO*


(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سرې کرکرې چرګ او ګيدړه

و نه و يوه پيشو، يو کارغه او يودانه د سرې کرکرې چرګ وو. دوي درې واړو په يو کوچنۍ کور کښې په ځنګل کې ژوند کاوه. پيشو او کارغه هره ورځ له خپل کور څخه د باندې وتل د ځنګله ډير ليرې سيمو ته خواړو پسې تلل او چرګ به په کور کښې پاته کيده.

پيشو او کارغه مخکې له دې نه چې د ځنګله په قصد له کور څخه د باندې وتل، چرګ ته به يې وويل: په خپل ځان بـه زيات پام کوي او خپل فکر به نيسي چې مونږ ليرې ځو ته به په کور کښې يې او کور به ساتې، که ګيدړه راغله چپ به اوسې او دوه کاره به نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

لمرېـ دا چې آذان بـــه نه کوي دوهم دا چې د کور د کرکېـ نه بـه سر د بـاندې نه باسـې. چرګ د هغوي په څواب کښې وويل ډير ښه. پيشـــــو او کارغه له کور نه د ځنګله په قصد ووتل.

په دغه وخت کښې ګيدړې وليدل چې پيشـــو او کارغه له کوره ووتل. لږ چې ليرې شـــول ګيدړه سمدلاســـه په تلوار د هغوې د کور په خوا راغله. د کړکېـ لاندې کښناسته خپلې شونډې يې وڅټلې او خپله غاړه يې تازه کړه او په ســــندرو يې پيل وکړه او ويې ويل: واورئ چې څرنګه د ســــرې کرکرې چرګ په کور کې ناست دی سينه يې لکه شـيدی سپينه، ږيره يې لکه،وريښم، سـريې لکه بخمل، وجود يې نارنجی او سور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

اي خدايه: څرنګه ظلم له هغه خوارکۍ سره شوی.

ای، ای چرګه څومره به ته وږی یې.


که چیرې لږ نخود غوارې د باندې وګوره.

چرګ کله چې د مکارې ګیدړې سندره واوریده. ورو یې سر د کور د کړکۍ نه د باندې ویست کله چې یې خپل سر د باندې ویست ګیدړی سمدستي حمله وکړه او هغه یې کلک ونیو او د خپل سوري په لوري روانه شوه. په دې وخت کښې چرګ له ویرې نه په چیغو وهلو شروع وکړه او داسې یې وویل:

زه یو کوچنی بې وزله او ضیعفه چرګ یم!

نن د ګیدړې په منګولو کښې ولویدم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مالیرې وړي!

د ژور سیند شاته، هلته چې کبانو ټوپونه اچوي.


د هغه لوي غره شاته! چې څوکه یې آسمان ته رسیږي. وای زه کوچنی او بیوزله چرګ یم چې نن د ګیدړې په منګولو کښې لویدلی یم.

ومې ژوغورئ! د خدای په لحـــــاظ ومې ژغورئ.

اې کارغه او پیشـــو چرته یاســت راشـــئ په لحاظ د خدای، ما د هغې د منګلو نه وژغورئ.

په همدې وخت کې وو چې پیشــو او کارغه د هغه د چیغو ږغ واوریده. ګیدړې پســــــې په لاره روان شـول تر څو چې ګیدړې پســې ورسـیدل. په

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې وخت کې دواړو په ګیدړې بـــاندې یرغل وکړ چرګ یې د هغې لـه منګلو نـه خلاص کړاو درې واړه یوځای کورته لاړل.

یو بله ورځ بیا پیشـو او کارغه قـصد وکړ تر څو د خپل د کــور خواتـــه ځنګلــه تـــه خـــواړو د راټولولو لپاره لاړ شي. بـیا یې چرګ ته وویل: اې نامراده چرګه تاته وایو! ډیر ډیر بـه په ځان او کور پام نیسی. د کور له کړکۍ نه به خپل سر د باندې نه باسې. ورمه ورځ خو خدای ستا پرده وکړه چې مونږ ســـتا ږغ واوریده، که نه ګیدړې بـــه په تا باندې ډیرې بدې لوبې کړې وای. امکان لری چې مونږ به کومه ورځ لیرې لاړ شو او ستا ږغ بـه وانه ورو بیا ځنګه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

چرګ ویل ډیر ښه! دا پلا پام کوم.

پیشـــو او کارغه هغه ته وویل خدای(ج) دې وکړي چې دومره هوښیار شـــــی! هغوي له کوره ووتل، د ځنګلـه مینـځ تـه لاړل، په دې وخت کښې ګیدړه په منډه د دوې د کور خواته راغله د کړکـۍ لاندې کیناسته او بـیا یې په سندرو ویلو پیل وکړ. د ګیدړې سـندرې خلاصې شـولې، چرګ په خپل ځای کښې کرار او چپ ناست و. د هغې د سـندرو پسې بیخي ونه ګرځیده.

ګیـدړې ولیـدل چې په خـدای چرګ هوښیـار شوی دی، خپل سر یې د بـاندې ونه یســته د ځان ســره یې وویل چې فکر کوم لکه چې چا ورته زده کړه کړې ده. هوښیار کړی یې دی او که څنګه؟ دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


پلا يې د بلې سندرې په وويلو پيل وكړ او داسې يې ويل:

وای وای د خدای لپاره! دغه ماشومان څنګه ځغلي. هغوي غنم په لاره کې شيندي. چرګان او چوغکې غنم د لارې نه ټولوي.

وای! څرنګه بعضې چرګان نه شي کولای چې هغه وخوري.

څومره مې زړه پرې سوزي کاشکې د غنمو د شيندلو نه خبر شې. کله چې د ګيډرې سندرې خلاصې شوې چرګ سمدستي او چټک خپل سر د کړکۍ نه د باندې ويست او ويې ويل، قو، قو، کوټ، کوټ، کوټ، دغه خبره بلکل احمقانه او دروغ ده هر چرګ کولای شي چې هغه وخوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


په همدې وخت کې و چې ګيدړې په چټکۍ سره په هغه باندې برید وکړه او هغه یې له غاړې نه کلك په خپله غېږه کې ونیو او د خپل سوري په لور روانه شو.

چرګ بیا په چغو، نارو او غوغا باندې پیل وکړ او ویل یې: زه نن یو کوچنی، بې وزله او بېچاره چرګ یم. ګیدړې زه نیولې یم او لیرې مې بیائې.

د ژور سیند هغې غاړې ته چې کبان په کې لامبو وهي.

د جګو غرونو هغې خواته چې څوکه یې آسمان ته رسیږي وای ! زه نن یو بېوزله چرګ یم اي کارغه او پیشو راشئ ما وژغورئ پیشو او

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

کارغه چې د چرګ رږغ واوریده په چټکۍ سره په ګیدړې پسې د تعقیب لپاره روان شول. پیشو په منډه او کارغه په الوتلو سره دواړو یو ځای په کوښښ او زیار وکولای شول چې ګیدړه ونیسي.

کله چې ګیدړې ته نږدې شول نوو یې ویل اي ګیدړې! ته شرم نه لرې! اې د چرګانو د ښمنې دا پلا به د تا حق درکړو.

همغه و چې پیشو په خپلو منګلو سره د ګیدړې سر او مخ شکارې کړ او کارغه هم په خپلو پنجو او مښوکه ترڅو یې چې کولای شول د ګیدړې په سر او بدن باندې ګذارونه وکړل وروسته لدې چې ګیدړه له حرکت نه ولویده، کارغه، پیشو او چرګ د کور په لوري روان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


بـله ورځ بـیا پیشـو او کارغه غوښتل چې د
خوړو د راټولولو لپاره ځنګل ته لاړ شـي. مخکې
له دې نه چې له کور نه وتل چرګ ته یې مخ واړاوه
او ویې ویل.

اي چرګه! د خدای مخ تـه وګوره تـر څو پورې
به دومره کم عقله یې!

څه وخت بـه هوښیار شـي. مونږ ستا د لاسـه
هیڅ کار و بار نه شو کولای! خپل ماغزه لږ په کار
واچوه ډیر ډیر په ځان او کور پام کـوه د خلکـو په
غوړو او ګرمو خبـرو پسـې مه ګرځه او مه غولیږه
هرڅوك یو مطلب لري.

د مکارې ګیدړې د بې معنی او پوچو سندرو
لپاره خپل سرله کړکۍ نه د باندې مه باسـه. دا پلا

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

خو خدای دربـاندی ورحـمیده او مونږ سـتا ږغ و اوریده. امکان لري چې مونږ ډیر لیرې لاړ شــو ته او ته بــه د خپلې کم عقـلۍ نه د ګیدړې په منګلو کې ولویږې بـیا بــه سـتا ږغ څوك وانه وري هغه وخت بـه چاره ستا هڅوکو ته ورسیږی او چاره بـه هم نه وي دغه دی مونږ لاړو ته په ځان پام کوه.

کم عقــل او شـــوده جرګك وویل ښه! کله چې کارغه او پیشو له کور څخه د باندې ووتل او لاړل. ګیدړه بــیا راغله! د کړکۍ لاندې کیناســته او په سندرو ویلو یې پیل وکړ.

جرګك چې د ګیدړې د سـندرو ږغ واوریده چپ په کورکې کیناست. د ګیدړې د سندرو په مقابـل کې یې عکس العمل ونه ښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ګیدړې ولیدل چې چرګ د هغې سندرو ته کومه پام لرنه ونه کړه او په هغه یې هیڅ تاثیر ونه کړ دا پلا یې د بلې سندرې په ویلو پیل وکړ.

وای! دغه څو ماشومان څنګه منډې وهي.

په خپلو پښو ډېرې چټکې منډې وهي.

وای تر څو چې کولای شي چټکې منډې وهي


هغوي څومره احمقان دي.

په لاره منډې وهي جوار او مشنګ شیندي.

چرګان دغه جوار او مشنګ په ډېره چټکتیا سره ټولوي.

حیف دی چې بعضې چرګان نه شي کولای چې هغه ټول کړي کاشکې له دې خبرې نه خبر شي! چرګ بیا هم د ګیدړې دغې سندرې ته چوپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

او غلی و.

ګیدړې ولیدل چې په خدای چرګ خوډیر هوښیار شوی دی. د ځان سره یې وویل چه ستا ښوونکی زما زده کوونکی دی زه به له تا سره حساب پاك کړم.


بیا یې په بله سندره پیل وکړ.

وای! د غه خلك ځنګه منډې وهي.

څومره ناپوه دي چې د زړو دانې شیندي. او د چرګانو بچیان منډې وهي. له ځانه خبرنه دي چې چرګان هغه ځنګه ژر ژر ټولوي

افسوس سل افسوس چې بعضې بې وزله چرګان د هغو له ښه غټو غټو دانو نه خبر ندي. کله چې چرګ د زړو نوم د ګیدړې د خولې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


واوریده بې طاقته شو. ژر يې خپل سر د کور له کړکۍ نه د باندې ویست او ويې ویل: کوکوکو ډیر دروغ دي.

یقیناً چرګان کوښښ کوي چې هغه وخوري.

ګیدړې چې له خدای نه دا غوښتل. که یو ځلې چرګ د کړکۍ څخه خپل سر وباسي بیا زه او ته سره جوړیږو.

کله چې چرګ خپل کرکرې والاسر د کور د کړکۍ نه ویست مکارې ګیدړې پرې حمله وکړه هغه يې په غيږ کې کلك ونیوه او د سورې په لورې روانه شوه. د هغې کور د ژور سیند خواته واقع شوی و. چې کبان په هغه کې لامبو وهي. د هغې کور د هغه جګ غره هغې بلې خواته چې څوکه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمان ته رسېږي. چرګک چې تر څو توان او زور درلود په چيغو او غږونو وهلو پيل وکړ. هر څومره يې چې پيشو او کارغه ته ږغ وکړ ولې هغوي د هغه ږغ وانه وريده بالاخره کله چې د څه ځنډ نه وروسته پيشو او کارغه د ځنګل نه د کور په لور راغلل ويې ليدل چې نادانه چرګک کور کې نشته.

پيشو او کارغه ډېر ناکراره شول بيا دواړو د ګيدړې د کور لاره په مخه ونيوله. پيشو په منډو او کارغه په الوتلو پيل وکړ تر دې چې هغه سوري ته ورسيدل چې هلته د ګيدړې کور و. پيشو خپل دواړه لاسونه يو په بل کيښيښود او په ګډا او سندرو ويلو يې پيل وکړ او ويل يې. د ګيدړې لپاره څومره خوندور او مزه داره دي. ګيدړې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په هوا کې کډا کومه. څومره به ښه وې چې هغه زما دغه سندره واوري او ګډا مې ووینې. سربېره پر دې چې پوهېږم چې خامخا بــه هغه د کوم کار لپاره د بـاندې وتلې وي. ګیدړې چې د پشـو دغه سندره واورېده د ځان سره یې وویل. فکر کوم چه ضرور ده چې زه یو پلا د بـاندې ووځم او ووینم چې څوك دي. چې په دومره اخلاص او هیلې ســـــره سندرې وایي او کډا کوي؟

یقـیناً څومره ښې خوږې یې وایې او سـندرې یې په زړه کې ځای نیســـــي. همغه و چې ګیدړه د سورې نه د باندې ووتله.

د ګیدړې په وتلو سره پیشو او کارغه ناڅاپه هغه کلکه ونیوه او په هغې یې دوهلو او څیرولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل وکړ. داسې وهل او شیرول چې ګیدړې د نړۍ ټول خوندونه هیر کړل او د هغې جسد یې د هغې د سوري خواته په داسې حال کې واچوه چې د هغې به د ژوند وروستۍ سلګۍ کښته او پورته کیدې.

وروسته له هغه نه پیشو او کارغه بې مغزو او بې عقل چرګ د ګیدړې له سورې نه د باندې ویست او په ټوکرۍ کښې یې واچوه او یو له بل سره د کور خواته روان شول وروسته له همغې ورځې نه چرګ هوښیار شو او درې واړو په خوشحالۍ سره خپل ژوندانه ته ادامه ورکړله.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زیرې مینه والو ته!

د سنایي پرمختیایي موسسې (SDO) تر اوسه پورې د ماشومانو لپاره د تصویرې کیسو د کتابونو په لړۍ کې یولس کتابونه چاپ او خپاره کړي دي. دغه کتابونه د ښه او سالم ژوند او ښې ټولنې پیامونه د کیسې په خوږه ژبه د خپل ګران ټاټوبي کوچنیانو او تنکیو نوځوانانو ته رسوي.

خلک، موسسات او دولتي ادارې او نور کولای شي چې دغه کتابونه د (SDO) له دفترونو نه په کابل او ولایاتو کې د SDO د خپرونوله غرفو نه په لاس ته راوړي.

پته: کابل دفتر د انصارې څلور لارې پنځم سرک ګینه لور ته د محمد علم فیض زاد د لیسې نژدې. تیلفون: 2201693

د هرات د دفتر پته: د مخابراتو څلور لارې د شغال باغچه چوک، د هرات ښار تیلفون 222627

(c) ketabton.com: The Digital Library

# 11

# De Sery karkary Cherg aw Gedarah

(Red Crown Peacock)


| | | |
|---|---|---|
| Published by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Editor - in - Chief | : | Raz Muhammad Dalili |
| Author | : | Abdul Qhfar "Gardezee" |
| Editor | : | Hafeeza Sai |
| Artist: | : | Lateef Ahmad Ghafoori |
| Tranonsled | : | Qhazi Mohammad Khalid |
| Composed By | : | Saifullah Zamani |

1st Edition : 1000 copies, Financed by SDF, July 2004
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by Children@Risk, May 2005

| | | |
|---|---|---|
| 3rd Edition | : | |
| Publishing date | : | Feb 2007 |
| Number of copies | : | 1500 copies |
| Financed by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Kabul address | : | Sanayee Development Organization (SDO)<br>Charrahi Ansarri, street # 5th<br>Near (Muhammad Alam Faiz Zad) high school |
| Kabul telephone | : | 0093-(20) 2201693 |
| Post Box | : | 181 Kabul Afghanistan |
| Email | : | sdfkabul@ceretechs.com |
| Websites | ; | wwwsanayee.org<br>Www.nawidefarda.com |
| Peshawar Address | : | Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan |
| Telephone | : | 0092-91-5842155 - 91582165 |
| Fax | : | +92+-1-5845139 |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**